Smittskydd Skåne

**ام.ار.اس.ای(Meticillinresistenta Staphylococcus aureus (MRSA ، د ناروغانو لپاره معلومات**
د عفونت نه د ساتنې د ډاکتر د عفونت نه د ساتنې پاڼه

**ام.ار.اس.ای څه شی دی؟**
ام.ار.اس.ای د Meticillinresistenta Staphylococcus aureus مخفف دی. ام.ار.اس.ای په دی مانا ده چه ستافیلوکوکونه د ځنې انتی بیوتیک په مقابل کې مقاومت لری (مقاومت لرونکی). د انتی بیوتیک په مقابل کې د حساسیت لونکو عادی ستافیلوکوکو نه دوی دومره زیات توپیر نلری. ستافیلوکوکوس اوریوس داسی باکتریاوی دی چه په عادی توګه په پوستکی او مخاطی غشاوو باندی موجودی وی، بیله د دی نه چه د کومو ستونزو علت وګرزی. دا عادی ده چه سړی دغه ډول باکتریاوی لری بیله دی نه چه سړی ناروغ وی. ستافیلوکوکوس اوریوس کولای شی د داسی عفونت سبب وګرزی چه باید د انتی بیوتیک په وسیله تداوی شی، لکه د زخم عفونت، وینه کیدل، ایمپیتیګو (زیړ زخم).

**آیا ام.ار.اس.ای کوم خطر لری؟**
ام.ار.اس.ای زیات عفونتونه منځ ته نه راولی، مګر د دوی درملنه کیدای شی سخته وی. د دی ختر شته دی چه درملنه یو څه زیات وخت نیسی او هغه انتی بیوتیک چه باید استعمال شی زیات فرعی عوارض ولری. د دی خطر هم موجود دی چه مقاومت لرونکی باکتریاوی به په روغتیایی موسسو کې خپری شی، چه هلته ناروغان په خاصه توګه د سرایت په مقابل کې حساس دی او د انتی بیوتیک نه زیاته استفاده کیږی. په خاصه توګه د هیواد نه په بهر روغتونو کی، د سویډن په مقایسه هلته ام.ار.اس.ای زیاتی وی.

**ام.ار.اس.ای څرنګه سرایت کوی؟**
هغه څوک چه یوازی د ام.ار.اس.ای لرونکی وی په کمو حالاتو کی نورو کسانو ته د سرایت سبب ګرزی. د سرایت خطر په هغه صورت کی زیاتیږی که چیری سړی په پوستکی کی عفونت، په سختی جوړیدونکی او اوبګین زخمونه او اګزیما ولری. داسی حالات د سرایت د **خطر فاکتورونه** ګڼل کیږی. ځنی مزمنی پوستی عفونتونه، ستوما او کتیترچه د پوستکی او مخاطی غشا څخه تیریږی، هم د خطر فاکتورونه ګڼل کیږی. د خطر په فاکتورونو کی ډیری باکتریاوی موجودی وی. هغه څوک چه د ام.ار.اس.ای لرونکی وی او د خطر فاکتورونه ولری کولای شی په کورنی، ورکتون کی، د حیواناتو سره د تماس په صورت کی، په سپورت کی د نورو د بدن سره د تماس په صورت کی او د اندامو د زیبایی په ځای کی نورو کسانو ته د باکتریاوو د سرایت سبب وګرزی. ام.ار.اس.ای نورو کسانو ته د لاسونو په په وسیله سرایت کوی، او کولای شی په چاپیریال کی په نورو شیانو باندی پاتی شی، لکه د دروازی لاستی او د تمرین په فرشونو باندی. همدا شان کیدای شی په روغتونونو، د بوډاګانو په کور او نورو روغتیایی موسسو کی باکتریاوی سرایت وکړی.

**آیا امکان لری چه ام.ار.اس.ای د بدن نه ورکی شی؟**
داسی کیدای شی چه له یوی مودی نه وروسته سړی نشی کولای ام.ار.اس.ای په معاینو کی پیدا کړی. دا وخت یو شان نه وی او کیدای شی له میاشتو نه تر کالو پوری وی او دا سخته ده چه د مخه وویل شی. د ام.ار.اس.ای مسئول ډاکتر د سرایت نه د ساتنی د ډاکتر سره یو ځای دا قضاوت کوی چه نور د معایناتو اخیستلو او د رفتار مقرراتو ارتیا نشته. دغه قضاوت په هغه صورت کی کیږی چه د یوه کال په بهیر کی په اقلا سر په سر دریو معایناتو کی ام.ار.اس.ای پیدا نشی.

**ته باید کومو شیانو ته پاملرنه وکړی؟**

- د لاسونو ښه حفظ الصحه تر ټولو نه ښه اقدام دی تر څو سړی د سرایت نه وساتل شی. لاسونه په مایع صابون مینځه.
- تر هغه وخته پوری چه ته د ام.ار.اس.ای لرونکی یی او د سرایت د خطر کوم فاکتور نلری، کولای شی په عادی توګه د نورو کسانو سره تګ راتګ ولری.
- که ته د سرایت د خطر فاکتورونه لری نو د دی خطر زیاتیږی چه باکتریاوی ستا نه نورو ته سرایت وکړی. په دی صورت کی ښه حفظ الصحه ډیره مهمه ده. په دقیقه توګه لاسونه مینځه. یوازی د خپل ځان پاک او د حفظ الصحی موادو نه استفاده کوه. په حوض یا وان کی د لامبو وهلو په ځای شاور یا دوش کوه. زخم په لته تړه او که د زخم نه اوبه راځی نو لته باید بدله کړی. که ته کتیت لری نو هغه باید تر جامو لاندی وی. د زخم یا کتیت سره د تماس نه وروسته لاسونه مینځه.
- د پوستکی دوامدار عفونت، په سختی جوړیدونکی یا اوبګین زخم یا اګزیما په صورت کی ته باید په داسی ورزش کی چه سړی یو د بل په بدن لګیږی او د تمرین او زیبایی اندام په مشترکو ځایو کی برخه وانه خلی.

- که ته د سرایت د خطر د فاکتورونو لرونکی یی نو د حیواناتو سره د تماس په صورت کی د لاسونو حفظ الصحه ډیره مهمه ده، ځکه چه حیوانات هم کیدای شی د ام.ار.اس.ای لرونکی وګرزی.

خاصی مشوری او توصیی

- د روغتیایی چارو په برخه کی هغه کار کوونکی او محصلین چه د سرایت د خطر د فاکتور لرونکی وی باید په روغتیایی کارونو کی برخه وانخلی. د روغتیایی چارو په هغه برخه کی چه حساس ناروغان تداوی کیږی باید د دی نه د مخه چه یوکارکوونکی کار پیل کړی د هغه په معایناتو کی باید د ام.ار.اس.ای نښه موجوده نه وی.
- په عادی توګه ماشومان کولای شی په وړکتون کی وی او په ټولو فعالیتونو کی برخه واخلی. مګر د پوستکی د عفونت، په سختی جوړیدونکی او اوبګین زخم یا اګزیما په صورت کی باید دی وړکتون ته رانشی.
- د حیواناتو سره د مسلکی کار په بهیر کی دا مهمه ده چه دوی ته باکتریاوی سرایت ونکړی. د سرایت نه د مخنیولو ډاکتر او د حیواناتو ولایتی ډاکتر به یو ځای مشوری ورکوی.

**د سرایت د مخنیولو د قانون په اساس ته باید د رفتار او کردار لاندی مقررات مراعات کړی.**

- ته باید د ډاکتر سره د بیالیدنی لپاره راشی او هغه معاینی چه د ستا د ډاکتر په نظر ضروری دی، ورکړی. د سرایت په کشف کی باید ته مرسته وکړی. دا په دی مانا ده چه ته باید داسی معلومات ورکړی چه روغتیایی کارکوونکی وکولای شی دا معلومه کړی چه ته څه وخت، چیری او په کومه توګه په سرایت اخته شوی یی او دا چی آیا تا نور کسان په سرایت اخته کړی دی که نه.
- د ناروغی د درملنی، د غاښو د درملنی او د پښو طبی درملنی په وخت کی ته باید د خپل ام.ار.اس.ای سرایت په هکله طبی پرسونل ته ووایی. همدا شان د شخصی روغتیایی ساتنی، په کور یا کوم مسکن کی د اوږدی مودی لپاره روغتیایی ساتنی په صورت کی هم دا اعتبار لری. که ته یوازی د پیرودلو، د کور پاکولو، د درمل ورکولو یا د چکروهلو مرستی ترلاسه کوی نو په زیاتو حالاتو کی ته مجبور نه یی چه د خپل سرایت په هکله څه ووایی.
- که ته د سرایت د خطر فاکتورونه لری ته باید د پوستکی د سوررولو، خال وهلو، ماساژ، د پښو غیر طبی تداوی د پوستکی او مخاطی غشاوو مشابه تداوی په صورت کی ته باید د خپل ام.ار.اس.ای سرایت په هکله کارکوونکو ته معلومات ورکړی. ته کولای شی صبر وکړی او وروسته له دی نه چه د خطر فاکتورونو ورک شول، دغه تداوی ترسره کړی.

د سرایت نه د ساتنی د قانون په اساس، ام.ار.اس.ای یوه عمومی خطرناکه ناروغی ده. په همدی دلیل ته مکلف یی چه د رفتار او کردار هغه مقررات چه ستا ډاکتر تا ته تجویزوی، مراعات کړی. ته کولای شی د دی غوښتنه وکړی چه ستا په ولایت کی د سرایت نه د ساتنی ډاکتر د رفتار اوکردار په مقرراتو باندی نوی ځیرنه وکړی.